د PWCS ګرانو کورنیو،

په دې مني کې به په پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځیو (PWCS) کې د ۲، ۶ او ۹ ټولګیو زده کوونکو څخه د وړتیا معلوملو په موخه د Naglieri غیر شفاهي آزموينه - دريمه نسخه (NNAT3) اخیستل کیږي. له دې فرصت څخه په ګټه پورته کولو سره، مونږ غواړو چی تاسو ته د دې آزموينې په اړه ځینې معلومات درکړو او دا چی ولې دا آزموينه په زده کوونکو باندی تطبيق کيږي.

د ګفتېد تعلیم لپاره زمونږ د نړیوال سکرینینګ پروسې برخې په توګه، NNAT3 په زده کوونکو کې د استدلال پراختیا او ستونزې حل کولو مهارتونو ارزولو لپاره کارول کيږي. د دې آزموينې په بهیر کې، له زده کوونکي څخه غوښتل کيږي چې یو لړ غیر لفظی یا شفاهي منطقی ستونزې حل کړي، کوم چې هغوي ته دا فرصت ورکوي چې په خبرو کولو باندی د تکیه کولو پرته د استدلال مهارتونه ښکاره کړي. NNAT3 د 30 دقيقو آزموينه ده کوم چې به **د ۲۰۲۶ کال د ۱۹ اکتوبر، او ۲۰ نومبر** نیټې ترمینځ ستاسو د زده کوونکي په ښوونځي کې تر سره کيږي. د NNAT3 د آزموينی پایلې به د ټولګي د نورو لاسته راوړنو سره په ګډه کارول کيږي تر څو مونږ سره د زده کوونکی د زده کړو پیاوړتیاوو او اړتیاو په اړه په پوهیدو کې مرسته وکړي ترڅو زمونږ سټاف یا کارکوونکی د هغوي لپاره د لارښوونی تر ټولو خورا اغیزمن پلان جوړ کړي.

د دې آزموينې لپاره د خپلو زده کوونکو د چمتو کولو لپاره تر ټولو غوره لار دا ده چې یوازی هغوي په پوره توګه ښه فعالیت ښکاره کولو ته وهڅوي. کله چې پایلې شتون ولري، ستاسو د زده کوونکي د نمرو یوه کاپي به تاسو ته واستول شي.

که تاسو د NNAT3 په اړه پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ په مستقیم ډول د خپل زده کوونکي ښوونځي سره اړیکه ټینګه کړئ.

په ډیر درنښت،

Paul F. Parker, Ph.D
د آزموينو نظارت کوونکي

PAUL F. PARKER, Ph.D.
Supervisor of Testing
Research, Assessment, and Data Services
P.O .Box 389, Manassas, VA 20108 • www.pwcs.edu • 703-791-8308